# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د اور په لمبو کې

د متحده ایالاتو د هوایي ځواک یوه غړي د ۲۰۲۴م کال د فبروري په ۲٦مه په واشنګټن کې ځان د اسرایلو سفارت مخې ته وسوځاوه او ویل یې: «زه به نور په نسل‌وژنه کې شریک نه وم.» په داسې حال کې چې د اور په لمبو کې و، د «فلسطین ازاد کړئ!» نارې یې وهلې؛ دا د عدالت لپاره یوه دردوونکې او نهیلي کوونکې ناره وه چې د غزې په نسل‌وژنه کې د امریکا د ښکېلتیا په سبب له ژور اخلاقي اضطراب سره پورته کېږي. د ځان سوځونې دا کړنه د هغو راهبانو په یاد راوړونکې ده چې په ۱۹٦۳م کال کې یې د جګړې او ځور په مخالفت کې ځانونه وسوځول؛ دا یوازې د جګړې پر وړاندې اعتراض نه دی؛ بلکې په هغه جنایت کې د ښکېلتیا پر وړاندې ژور بیان دی چې دغه سرتیري نور د غزې په روانه نسل‌وژنه کې خپله ښکېلتیا نه شوی زغملی.

د اسرایلي پوځ په ملاتړ کې د امریکا د هوایي ځواک ښکېلتیا ښه واضح او مستنده ده. د انټرسېپټ راپور په ډاګه کړه چې امریکا د بمبارۍ لپاره د هدفونو په پېژندلو کې، د ۳۰ زره کسانو د وژلو سبب شوي، مهم رول لرلی. د هوایي ځواک دغه غړي چې ځان وسوځاوه؛ په روانه نسل‌وژنه کې د امریکا له مستقیمې ښکېلتیا ښه خبر و. د صهیونیستي رژیم د سفارت مخې ته د دغه کس ځان سوځول ټولې نړۍ ته د دوی د جنایت د ښودلو لپاره یوه بیانیه وه او تر ټولو مهمه دا چې دولت یې په پیسو او وسلو د دغې نسل‌وژنې اور ته لمن وهي.

په دغې جګړه کې د امریکا رول له یوازې نظامي ملاتړه ډېر زیات دی. دغه هیواد صهیونیستي رژیم ته د بمونو او مهماتو لېږد ته دوام ورکوي او پر دې ښه پوهېږي چې دغه وسلې صهیونیستي رژیم د ملکي وګړو د هدف ګرځولو لپاره کاروي. د بې ګناه وګړو په هدف ګرځولو کې دغه همکاري ښیي چې غرب مسلمانانو ته په څومره ټیټه سترګه ګوري چې کولی شي د «جانبي زیانونو» په توګه یې له منځه یوسي. په دې برخه کې د اصلي رسنیو روانه پالیسي هم همدوره د اندېښنې وړ ده. د هوایي ځواک د دغه غړي د ځان سوځولو او د غزې په نسل‌وژنه کې د امریکا د ښکېلتیا په اړه د اصلي رسنیو چوپتیا ښیي چې دغه رسنۍ په بشپړه توګه د سپینې ماڼۍ له سیاستونو سره همکارې دي. د رسنیو د نه پوښښ په سبب هغه واقعیت نه ښودل کېږي چې د امریکا ډېری عام خلک د روانې نسل‌وژنې سخت مخالف دي. د عامو خلکو له مخالفت سره سره، د بایډن اداره د صهیونیستي رژیم د پوځ تامین او ملاتړ ته دوام ورکوي او پر نړیوال سټیج یې د کړنو دفاع کوي.

د اسلامي نړۍ د پوځونو چوپتیا کېوونکې ده. د روانې نسل‌وژنې پر وړاندې د دغه نامسلمان عسکر زړور دریځ د مسلمانانو د نظامي رهبرانو له چوپتیا سره بیخي په ټکر کې دی. دغه عکسر نه اسلام ته مقید و او نه د جهاد – چې مسلمان سرتیري ته انګېزه ورکوي- د عقیدې لېږدوونکی؛ خو بیا یې هم دومره زړورتیا او اخلاقي جرات وښود چې د مسلمانانو نظامي رهبران باید ترې وشرمېږي. د ده کړنې یوه ژوره ماتې ښیي: په هغو کسانو کې د زړورتیا نشتون چې باید له مظلومانو څخه د دفاع په لومړۍ کرښه کې وي. یوازې د خلافت دولت له سیاسي رهبرۍ سره دا ممکنه کېږي چې له پوځونو څخه د مسلمانانو پر ضد نه، بلکې د مسلمانانو د عزت د ساتلو لپاره کار واخلو.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي؛ څنګه د یوې پردۍ خاورې پوځي چې د فلسطین له خلکو سره کوم مستقیم دیني تعهد نه لري، دومره زړورتیا او اخلاقي جرات او صداقت ښیي چې د مسلمانانو له نظامي رهبرانو وړاندې کېږي؟ دا اختلاف یوازې د نظامي ښکېلتیا ماتې نه ده، بلکې د مسلمانانو د نظامي رهبرۍ ماتې ده. د مسلمانانو د روانې نسل‌وژنې پر وړاندې د دغو رهبرانو چوپتیا او کرار کېناستل نه یوازې دا چې له الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیانت دی، بلکې د یوه مسلمان سرتیري نوم او د زړورتیا صفت یې بد کړی. نړۍ د دغه امریکایي پوځي زړوتیا ته د داسې هندارې په توګه کتلی شي چې زموږ نیمګړتیاوې منعکسوي. اوس د دې وخت دی چې د مسلمانانو د پوځونو رهبران د خدای په لار کې د مجاهدت، د مظلومانو د دفاع او د ظلم پر وړاندې قیام ریښتینې روحیه پیدا کړي.

**«وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَـذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا»** [نسأ:۷۵]

**ژباړه:** «په تاسو څه شوي چې تاسو د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د هغو بې وسه نارینه‌و، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزورې کړل شوي، شکنجه شوي او داسې فریادونه کوي چې: اې زموږ ربه موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه او له خپل لوري څخه زموږ لپاره کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»

**په امریکا کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۵ هـ.ق کال د شعبان ۱۶مه

۲۰۲۴م کال د فبروري ۲۶مه

د صدور گنه: ۲/۱۴۴۵